# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## د ادي کيلپ

Ursula Nafula
Catherine Groenewald
Zahidullah Abid

This work is licensed under a Creative Commons Attribution 3.0 International License.
https://creativecommons.org/licenses/by/3.0

# د ادي کيلپ

Ursula Nafula
Catherine Groenewald
Zahidullah Abid

4

پښتو ps

د ادې باغ ډېر په زړه پورې ؤ. نوموړی باغ د باجرو، جوارو او کاساوا څخه ډک و. خو له هر څه یې کیلې ښې وې. که څه هم زما د ادې ډیر لمسیان ؤ، خو زه ورته په پټه په ټولو کې ډېرګران وم. ماته به یې ډېری وخت خپل کور ته بلنه راکوله. ماته به یې ځینې رازونه هم ویل. خو یو راز ؤ چې له ما سره یې شریک نه کړ، هغه راز دا ؤ چې کوم ځای کې هغه کیلې پخوي.



په همغه ورځ ماښام، مور، پلار او نیاجانې مې ماته غږ وکړ، زه پر دې پوهیدم، چې د څه لپاره ماته غږ کوي، کله چې زه پر تخت څملاستم، پر دې پوهه شوم، چې نور به هېڅکله له خپلې مور، پلار او نیاجانې او هیچا څخه غلا ونکړم.

یوه ورځ مې د انا له کوره بېرون، لمر ته د بوسو یوه لویه ټوکرۍ ولیده. له نیا مې وپوښتل چې دا ټوکرۍ څه لپاره ده، نیا مې وویل، "دا زما جادویي ټوکرۍ ده." د ټوکرۍ تر څنګ د کیلې د ونې یو څو پاڼې وې، چې انا به وخت په وخت بدلولې. زه د نیا دې کار ته متوجه وم. له نیا مې وپوښتل "دا پاڼې د څه لپاره دي، ؟" نیا مې په ځواب کې راته وویل، "دا زما جادویي پاڼې دي."



بله ورځ نیا مې غوښتل ښار ته لاړه شي، انا مې سهار وختي له خوبه پاڅېده. هغې به تل پخې کېلې او کاساوا په بازار کې پلورل. ما په هغې ورځ د هغې لیدو ته بیړه ونه کړه. خو دا مې هم نه شو کولی چې د ډېر وخت لپاره د هغې څخه لرې واوسم او هغه ونه ګورم.

د نیا کیلو،پاڼو او د بوسو غټې ټوکرۍ لیدلوخوند راکاوه. خو نیا مې زه په یوه کار پسې مور ته ولېږلم. ما مې نیا ته په ټینګار سره وویل”نیا جانې، اجازه راکړئ چې وګورم چې تاسو څه او څنګه چمتو کوئ.” نیا مې راته وویل: “مه شله کېږه کوچنیه!، څه مې چې درته وویل، هماغه وکه.” زه هم لاړم.



بله ورځ، کله چې مې نیا په باغ کې سابه راټولولو، زه په پټه کوټې دننه شوم او یو ځل بیامې کیلې وکتلې. تقریباً ټولې کېلې پخې شوې وې. خو ما نشو کولی چې د څلورو پخو شوو کېلو غونچه پټه کړم. کله چې مې د دروازې په لور قدم کېښود، د شا نه مې د انا ټوخی واورېده. کیلې مې د خپلو جامو لاندې پټې کړې او د هغې څخه تېره شومه.

کله چې بیرته راستنه شوم، نیا مې د کوره بهر ناسته وه، نه هغه ټوکرۍ وه او نه هم کیلې. ما مې له نیا وپوښتل”ادې جانې، هغه ټوکرۍ څه شوه، کیلې چېرته دي، چېرته ...” خو بیا هم یوازینی ځواب چې ما ترلاسه کړ هغه دا ؤ، “هغه ټول زما په جادویي ځای کې دي.”
دا ډېره مایوسه کوونکې وه!



بله ورځ مې چې نیا زما د مور لیدو ته راغله، زه د هغې خونې ته په منډه منډه ولاړم ، تر څو زه یو ځل بیا هغه کیلې وګورم. ما د ډیرو پخو شوو کېلو یوه ګېډۍ ولیدله. یوه کیله مې ترې راواخیسته او د جامو لاندې مې پټه کړه. د ټوکرۍ د پوښلو وروسته، زه د کور شاته لاړم او په چټکۍ سره مې کېله وخوړه. دا ترټولو خوږه کیله وه، ما تر دې دمه د دې په څېر خوندوره کېله نه وه خوړلې.

دوه ورځې وروسته، نیا مې زه د هغې د خوب کوټې ته د هغې په امسا پسې ولېږلم. کله چې مې دروازه خلاصه کړه، د پخو کیلو بوی مې حس کړ. د کوټې دننه د انا لویه جادویي د بوسو ټوکرۍ وه او یوه زړه کمپله ترې راچاپېره وه. ما هغه کمپله ترې پورته کړه او یو ډېر خوږ بوی مې حس کړ.



نیا مې غږ وکړ او له دې سره زه وډار شوم، “هله ژر شه څه کوې!!” ما د نیا امسا را واخیسته او په چټکۍ سره له کوټې بهر ووتم، نیا مې وویل “ولې خاندې؟ څه خبره ده؟!” ما ځکه خندل چې د نیا جادویي ځای پیدا کړم او دا چې څنګه کیلې پخوي، وګورم.